د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه
د شرعياتو پوهنځي رياست

# د فقه او قانون څانګې کتلاک

کال:

1403/07/21

1446/04/08

## سریزه:

**الحمد لله والصــلاة والســلام علی رســول الله وعلی آله واصــحابه اجمعین.**

حمد او ثنا هغه ذات لره ده چې انسان ته یې هغه څه وښودل کوم یې چې زده نه وو.

وردګ سیمه په تاریخي لحاظ د علم او ادب سیمه وه او ده. د دې سیمې د وګړو د ژوندانه عمده برخه په تعلیم، تحصیل او علمي خدماتو مشتمله ده، د دې سیمې وګړي که څه هم له اقتصادي لحاظه کمزوري دي، خو خپلو نسلونو او اولادونو ته په علمي برخه کې هېڅ نیمګړتیا نه پرېږدي او هغوی ته د زده کړو زمینه برابروي؛ له همدې امله یې ټولنه په اجتماعي، دیني او اخلاقي معیارونو سمبال ده، همدا د علم برکت دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې د وخت د طاغوتي نظامونو په وړاندې په زغرده مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې قرباني او سرښندنې بې مثاله دي، سره له دې ځانګړنو د دې سېمې خلک د نظامونو له خوا د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې تر ډېره له پامه غورځول شوي دي او داسې علمي مراکز نه دي په کې ایجاد شوي چې د دې سیمې د خلکو غوښتنو ته ځواب وویلی شي. په دې اواخرو کې د اسلامي امارت له لورې د دیني مدارسو رسمي کولو، د جهادي مدرسې ایجاد او په وردګ لوړو زده کړو مؤسسه کې د شرعیاتو پوهنځي ایجاد، داسې هیلې را ټوکولې دي چې دلته به د علمي اصلاحاتو او خدمتونو مرکز جوړ شي، چې په ټوله کې د

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په ځانګړي ډول د شرعیاتو پوهنځی د دغو سترو هیلو لومړنی نښې او نښانې دي.
وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه چې له ۵ فعالو پوهنځیو څخه یې یو هم د شرعیاتو پوهنځی دی، دوه څانګې یې (فقه او قانون او اسلامي تعلیماتو) د هیواد بچیان په اسلامي روحیه روزي، تر دې مهاله یې د استاذانو شمیر نه (۹) او د محصلینو شمیر یې ۱۸۵ دی.

## د فقه او قانون څانګې لنډه تاریخچه

د فقه او قانون څانګه د شرعیاتو پوهنځي سره هم مهاله په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې تأسیس شوه، نوموړې څانګه اوس مهال د کامل رشد او پرمختګ په حالت کې قرار لري، اوس مهال ۹۴ تنه محصلین په کې په زده کړو بوخت دي.
نوموړی دیپارتمنت ۵ تنه برحاله استادان لري، چې د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون، اسلامي تعلیماتو برنامو او د نور پوهنځیو په صنفونو کي د اسلامي ثقافت اړوند مضامین تدریس کوي.

## لرلید

دفقه او قانون څانګه د خدمت په موخه عدلي، قضائي او تعلیمي ادارو لپاره متخصص او وړ کادرونه روزي،ترڅو دین، هېواد او هېوادوالو ته د خدمت مصدر شي  او د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د شرعي علومو د تخصص په برخه کې په نړیوال معیارونو برابر  معتبر علمي مرکز وګرځي.

## وجهة النظر

يهدف قسم الفقه والقانون إلى تدريب كادر متخصص ومؤهل لخدمة المؤسسات العدلية والقضائية والتعليمية، ليكونوا مصدر خدمة للدين والوطن والمواطنين، وليصبح القسم مركزًا علميًا معتمدًا بمعايير عالمية في مجال التخصص بالعلوم الشرعية على مستوى الوطن والمنطقة والعالم.

## رسالت

د فقهې او قانون څانګه د خپل ټاکل شوي کریکولم په رڼا کې د مسلکي او تجربه لرونکو استادانو په وسیله تدریس کوي، کوښښ یې دا دی چې په علمي،عدلي او قضائي برخو کې د متخصصو او معتهدو کادرنو د روزني او په دي برخه کې د علمي څېړنو سرته رسولو له لارې په ټولنه کې خپل نقش او رول آداء کړي.

## الرسالة

يقوم قسم الفقه والقانون بالتدريس من خلال منهاج محدد وبواسطة أساتذة مهنيين وذوي خبرة، ويسعى لتدريب كادر متخصص ومؤهل في المجالات العلمية والعدلية والقضائية، ويؤدي دوره في المجتمع من خلال إجراء البحوث العلمية في هذا المجال.

## موخي

۱ـ د قرآن کریم، نبوي احادیثو، فقهې او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د اساسي مصادرو پیژندنه.
۲ـ ټولنې ته د تقنین، قضاء او افتاء په برخه کې د یوې قوي، دیني مرجع په توگه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کول.
۳ـ د توحید د صحیحې عقیدې، نبوي سیرت زده کړه او په جامعه کې یې د عملي کولو لپاره کار کول.
۴ـ په نړۍ کې دمختلفو ادیانو پېژندنه او د انحرافاتو بیان یې، د اسلام د مقدس دین د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دریځ بیان او دهغو د شبهاتو له منځه وړل.
۵ـ د دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

## الأهداف

- .1التعليم المهني للقرآن الكريم والأحاديث النبوية والفقه والعلوم ذات الصلة بهم وأصولها، والتعرف على مصادرها الأساسية.
- .2تقديم كادر مهني متخصص كمرجع ديني قوي في مجالات التشريع والقضاء والإفتاء للمجتمع.
- .3تعليم العقيدة الصحيحة للتوحيد والسيرة النبوية والعمل على تطبيقها في المجتمع.

- .4التعرف على الأديان المختلفة في العالم وبيان انحرافاتها، وتوضيح مواقف الجماعات الأخرى تجاه مصادر الدين الإسلامي المقدس، وإزالة الشبهات.
- .5الدفاع عن المقدسات الدينية.

## ارزښتونه

د فقه او قانون ځانګې ځینې مهم ارزښتونه په لاندې ډول ذکر کېږي.

*- دیني او ملي ارزښتونو ته ځانګړې توجو کول.

*- په زده کړه او خدماتو کي لا زيات ښه والي.

*- تعلیمي،اداري او مالي استقلالیت

*- په تعلیمي او اداري چارو کې شفافیت او عدالت

*- څېړنې او نوښتونو ته خاص پام کول.

## امکانات او زېربنا

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو علمي خدماتو ترسره کولو لپاره د تدریس او اداري خونو له کمبود سره مخ ده چې فعلا د شرعیاتو په شمول زیاتره پوهنځي تدریسی او په ځانګړي ډول اداري چارې د ښوونې او روزنې په تعمیر کې مخ ته وړي. دا چې یاد پوهنځی نوی دی، مستقل امکانات نه لري او له هغه امکاناتو څخه استفاده کوي چې د يادې مؤسسې په سطحه په واک کې ورکول شوي دي، د مؤسسې په سطحه زرغونې ساحې لکه چمنونه، د منو،

بادامو، شفتالو نمونوي باغونه لري، په ياده مؤسسه کې يوه اندازه کتابونه چې د شرعياتو پوهنځي اړوند کتابونه هم په کې شته دي، همدارنګه مجهز کمپيوټر لب او نور وسايلو شتون لري، ياد پوهنځی او د فقهې او قانون څانګه حقوقي کلينيک او د تمثيلي محاکمو خونې او ځينې نور تجهيزات نه لري چې په راتلونکې کې به يې د منظورۍ او لاسته راوړلو لپاره هڅه وشي. د شرعياتو پوهنځی او فقه قانون څانګې رهبري او استادان د ښه احساس او ظرفيت په لحاظ په ښه موقف کي قرار لري، د تدريس د ښه او مؤثر تمامېدو په موخه بېلا بېل فزيکي او تدريسي امکانات لري:

## د څانګې آمريت :

د فقه قانون څانګې آمريت وخت په وخت له علمي اداري او تدريسي چارو څخه ليدنه او ارزونه کوي او په خپل وخت اړونده  مشکلاتو او ضرورتونو ته رسيدګي کوي.

## درسي صنفونه

فقه او قانون څانګه په برقي او عصري وسايلو باندې سمبال صنفونه لري

# کتابتون

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه عامه کتابتون لري چې د نورو پوهنځیو په شمول د شرعیاتو پوهنځي اړوند کتابونه هم په زیاته توګه په کې موجود دي او محصلین او استادان ورڅخه استفاده کوي.



## کمپیوټر لب

یاده مؤسسه عامه کمپیوټر لب لري چې په عصري وسایلو او انټرنیټ سمبال دی او د شرعیاتو پوهنځي محصلین ترې استفاده کوي.



## مسجد

د ذکر شوي مؤسسې په ساحه کې لوی جومات شتون لري چې د ارشاد او دعوت آمریت یې د امامت، خطابت، اشاد او دعوت او دیني علومو حلقې د شرعیاتو پوهنځي استادان سره په هماهنگی سره مخته وړي.



## بریښنا

یاده مؤسسه د سولري او غیر سولري بریښنا څخه برخمن ده چې د غیر سولري (عمومي) بریښنا د نشتون پر مهال له سولري بریښنا څخه استفاده کوي.



## د فقه او قانون برنامې کاري ساحه

نوموړې برنامه د شرعیاتو پوهنځي په چوکاټ کي فعالیت لري، چې ټولنې ته د لیسانس په کچه فارغین وړاندي کوي، فارغین یې عمدتاً د فقه، میراث، اصول فقه، حقوقو او نورو اړوند علومو د ضروري پوهي او لازمو عملي مهارتونو په زده کړې سره په ټولنه کي د خدمت جوګه ګرځي. د کار ساحه یې عبارت ده له: د شرعي علومو مراکز او مدارس، محاکم، عدلیې وزارت، مدافع وکالت او نورو څخه. علمي تخصصات یې عبارت دي له: فقه، اصول فقه، حقوق، تفسیر، حدیث، عقیده، د عربي ژبي علوم (صرف، نحو، بلاغت) او .... څخه.

## علمي او اداري نظام

د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې ټولې علمي (اکاډمیکي)، او اداري چاري د پوهنځي د رئیس، د څانګې د آمر او استادانو، تدریسي او اجرائیه مدیرانو، او اداري خدماتي کارکوونکو په مرسته د دندو د لایحې سره سم تر سره او پر مخ وړل کیږي.

په دې برخه کي د فقه او قانون څانګې د تحصیلي دورې، د محصلانو د شمولیت څرنګوالي، فراغت او نورو اړونده مسایلو تشریح وړاندي کیږي.


د فقه او قانون څانګې د خپلو تدریسي، علمي او اداري کارونو د ښه والي او بشپړوالي په موخه بېلابیلي کمېټې تشکیل کړي چې هره یوه یې په خپل ځای کي د څانګې او پوهنځي په لوړوالي او سمون کي ځانګړی رول لري.

## د شرعیاتو پوهنځی استادان او اداري کار کوونکي

### الف:- د فقه او قانون څانګې د استادانو شمیر

| ګڼه | د بست دول | تشکیل | موجود | | کمبود | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | استادان (کادري) | ۵ | ۵ | ۰ | ۰ | ۵ |

### ب:- د فقه او قانون څانګې د علمي هیئت د پېژندګلوی ډیاګرام



## د:- د فقه او قانون ځانګې د محصلينو شمېر

| لومړی | دويم | دريم | ټول ټال |
|---|---|---|---|
| ۵۲ | ۳۱ | ۱۱ | ۹۴ |

## د فقهې او قانون علمي برنامې د فارغ التحصيل واضح تعريف

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په شرعياتو پوهنځي کې د فقهې او قانون علمي برنامه د افغانستان د محکمو، څارنوالۍ، وکالت، افتاء او د مرکز او ولايتونو د شرعياتو پوهنځيو او ديني جامعاتو او مدارسو لپاره د مسلکي او تخصصي کادرونو د روزنې په منظور ايجاد شوې ده. په همدې اساس د فقهې او قانون علمي برنامه هغه شخص د خپل فارغ التحصيل  په صفت پېژني چې ۱۳۶- ۱۴۰ کريډيټونه په يوه تحصيلي دوره کې چې د ورځې لخوا په څلور کاله (۸ سمسترونو) کې پوره کړي او د پوهې مهارتونو او سلوک (کړنو) په برخه کې د لاندې شرطونو درلودونکی وي:

**۱- د پوهې او علم په برخه کې:** د فقهې او قانون د علمي برنامې فارغ التحصيل بايد په دې وتوانېږي چې د ليسانس په کچه د فقهې او قانون د موضوعاتو پر تحليل او پرتله، صورت دعوی او دفاعيې جوړلو پر موضوعاتو باندې حاکم وي، په شرعي، فقهي، قضايي، تقنيني،افتاء او ديني علومو د

تدریس پر مهارتونو باندې تسلط ولري، تر څو په دې وتوانېږي چې د اسلامي فقهې او قانون متخصص په صفت په ټولنه کې د کار وړتیا ولري.

**۲- د مهارتونو په برخه کې:** د فقهې او قانون د علمي برنامې فارغ التحصیل هغه شخص دی چې حد اقل په یوه بهرنۍ ژبه، ښه مدیریت، صورت دعوی او دفاعیې جوړولو، د فقهې او قانون پرتلې او نورو ښونیزو پروګرامونو سره بلدتیا ولري او په دې برخه کې د خپلو ستونزو د حل وړتیا ولري.

**۳- د کړنو او چلند په برخه کې:** د فقهې او قانون د علمي برنامې فارغ التحصیل هغه شخص دی چې د فقهې او قانون تخصصي او مسلکي مضامین اسلامي شریعت او فقهې مسائلو او اصولو ته په احترام، علمي اصولو په رعایتولو، د اسلامي، انساني او اخلاقي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره یې تر لاسه کړي، ټولو دغو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تبعیض او تعصب څخه پاک وي.

**د فقهې او قانون څانګې اړوند مضامين**

| کال (لومړی) سمستر (لومړی) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IL | دمضمون نوعیت | تعداد کریدت | ملاحظات |
| ۱ | الحفظ والتجوید (النصف الأخیر من جزء ۳۰) | SL.IL. 0106 | اساسي | ۲ | |
| ۲ | العقیده (۱) (ألالهیات) | SL.IL. 0107 | اساسی | ۲ | |
| ۳ | الحدیث (۱) | SL.IL. 0108 | اساسی | ۲ | |
| ۴ | فقه العبادات (۱) (الصلاة و الصیام) | SL.IL. 0109 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | تاریخ التشریع | SL.IL. 0110 | تخصصي | ۲ | |
| ۶ | السیرة (فقه السیرة) | SL.IL. 0111 | اساسی | ۲ | |
| ۷ | مبادي حقوق | SL.IL. 0112 | اساسی | ۲ | |
| ۸ | اللغة العربیة (۱) (الصرف) | SL.IL. 0113 | اساسی | ۲ | |
| ۹ | چاپیریال ساتنه | SL.IL. 0102 | تول شمول | ۱ | |
| ۱۰ | د افغانستان معاصر تاریخ | SL.IL. 0103 | تول شمول | ۲ | |
| تول تال | | | | ۱۹ | |

| كال (لومړی) سمستر (دوهم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | كود نمبر IL | نوعيت مضمون | تعداد كريدت | ملاحظات |
| ١ | العقيد (٢) (النبوت) | SL.IL .0207 | اساسي | ٢ | |
| ٢ | الحديث (٢) | SL.IL .0208 | اساسي | ٢ | |
| ٣ | فقه العبادات (٢) (الزكات والحج) | SL.IL .0209 | تخصص ي | ٣ | |
| ۴ | فقه الأحوال الشخصية (١) | SL.IL .0214 | تخصص ي | ٢ | |
| ۵ | علوم الحديث | SL.IL .0215 | اساسي | ٢ | |
| ۶ | اساسي عمومي حقوق | SL.IL .0216 | اساسي | ٢ | |
| ٧ | علوم القرآن | SL.IL .0217 | اساسي | ٢ | |
| ٨ | اللغة العربية (٢) (قواعد النحو) | SL.IL .0213 | اساسي | ٢ | |
| ٩ | المنطق القديم | SL.IL .0218 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | اسلامي تاريخ | SL.IL .0219 | اساسي | ٢ | |
| تول ټال | | | | ٢١ | |

| کال (دوهم) سمستر (دريم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | كـود نمبر IL | نوعيت مضمون | تعـداد كـريـدت | ملاحظات |
| ١ | العقيد (٣) (السمعيات) | SH.IL.03.07 | اساسي | ٢ | |
| ٢ | التفسير (١) | SH.IL.03.20 | اساسي | ٢ | |
| ٣ | أحاديث الأحكام (١) | SH.IL.03.21 | تخصصي | ٢ | |
| ٤ | فقه الأحوال الشخصية (٢) | SH.IL.03.14 | تخصصي | ٢ | |
| ٥ | أصول فقه (١) | SH.IL.03.22 | تخصصي | ٢ | |
| ٦ | حقوق الانسان في الاسلام | SH.IL.03.23 | اساسي | ٢ | |
| ٧ | انجليزية | SH.IL.03.04 | ټول شمول | ٢ | |
| ٨ | حقوق العمل والتأمينات الاجتماعية | SH.IL.03.24 | تخصصي | ٢ | |
| ٩ | المنطق الجديد | SH.IL.03.25 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | اللغة العربية (٣) (قواعد النحو) | SH.IL.03.13 | اساسي | ٢ | |
| | ټول ټال | | | ٢٠ | |

**صنف (دوهم) سمستر (څلورم)**

| شماره | مضمون | كـود نمبر IL | نوعيت مضمون | تعداد كريـدت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | التفسير (٢) | SH.IL.04.20 | اساسي | ٢ | |
| ٢ | أحاديث الأحكام (٢) (المعاملات) | SH.IL.04.21 | اساسي | ٢ | |
| ٣ | فقه المعاملات (١) (البيوع) | SH.IL.04.26 | تخصصي | ٣ | |
| ۴ | فقه الجنايات (١) مقارناً بالقانون الجنائي العام | SH.IL.04.27 | تخصصي | ٢ | |
| ۵ | أصول فقه (٢) | SH.IL.04.22 | اساسي | ٢ | |
| ۶ | مقارنة الأديان | SH.IL.04.28 | اساسي | ٢ | |
| ٧ | مبادئ الاقتصاد | SH.IL.04.29 | اساسي | ٢ | |
| ٨ | د اساسي قوانينو فقهي تخريج او تحليل | SH.IL.04.30 | اساسي | ١ | |
| ٩ | فقهي او عدلي مسلكي اخلاق | SH.IL.04.31 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | اللغة العربية (۴) ( البلاغة) | SH.IL.04.13 | اساسي | ٢ | |
| تول ټال | | | | ١٩ | |

| کال (دریم) سمستر (پنځم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | تفسير آيات الأحكام (۱) (أحكام القرآن للتهانوي) | SH.IL .05.20 | تخصصي | ۳ | |
| ۲ | أحاديث الأحكام (۳) سنن الترمذي | SH.IL .05.21 | تخصصي | ۳ | |
| ۳ | فقه المعاملات (۲) التوثيقات | SH.IL .05.26 | تخصصي | ۲ | |
| ۴ | فقه الجنايات (۲) (مقارناً بالقانون الجنايي الخاص) | SH.IL .05.27 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | علم الميراث (۱) | SH.IL .05.32 | تخصصي | ۲ | |
| ۶ | أصول فقه (۳) (كتاب الله والسنة) | SH.IL .05.22 | اساسی | ۲ | |
| ۷ | الفرق والمذاهب | SH.IL .05.33 | اساسی | ۲ | |
| ۸ | الغزو الفكري | SH.IL .05.34 | اساسی | ۲ | |
| ۹ | النظريات الفقية (الحق والالتزام والملكية) | SH.IL .05.35 | تخصصي | ۲ | |
| ۱۰ | انتخابي | SH.IL .05… | انتخابي | ۱ | |
| تول ټال | | | | ۲۱ | |

## د فقه قانون څانګې پنځم سمستر د انتخابي مضامینو لیست

| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نړیوال عمومي حقوق | SH.IL. 05.36 | انتخابي | ۱ | |
| ۲ | کریمینالوژي (جرم پیژندنه) | SH.IL. 05.37 | انتخابي | ۱ | |

## کال (دریم) سمستر (شپږم)

| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تفسیر آیات الأحکام (۲) (روائع البیان) | SH.IL. 620 | تخصصي | ۳ | |
| ۲ | أحادیث الأحکام (۴) سنن ابي داؤد | SH.IL. 621 | تخصصي | ۳ | |
| ۳ | فقه المعاملات (۳) (وسائل الاثبات) | SH.IL. 626 | تخصصي | ۲ | |
| ۴ | علم المیراث (۲) | SH.IL. 632 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | أصول فقه (الاجماع و القیاس) | SH.IL. 622 | اساسي | ۲ | |
| ۶ | فقه الشرکات | SH.IL. 637 | تخصصي | ۲ | |
| ۷ | أصول محاکمات | SH.IL. 638 | تخصصي | ۲ | |

| ملاحظات | تعداد کریډت | د مضمون نوعیت | کود نمبر IL | مضمون | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۲ | اساسي | SH.IL. 639 | النظام السياسي في الاسلام | ۸ |
| | ۱ | انتخابي | SH.IL. 6.. | انتخابي | ۹ |
| | ۱۹ | ټول ټال | | | |

## د فقه قانون څانګې شپږم سمستر د انتخابي مضامینو لیست

| ملاحظات | تعداد کریډت | د مضمون نوعیت | کود نمبر IL | مضمون | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| | ۱ | انتخابي | SH.IL. 640 | القانون الدولي الخاص | ۱ |
| | ۱ | انتخابي | SH.IL. 641 | فقهي لیکنه | ۲ |
| | ۱ | انتخابي | SH.IL. 642 | کریمنالستیک (جرم موندنه) | ۳ |